مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی ۲۰۲۶/۰۸/۳۱

# روژه مات

ورور يې زما ټينګ انډيوال ؤ، خو اوس په خوارۍ مزدورۍ پسي کراچي ته تللی دی.
کور يې زموږ د دوکان په شا پوري نښتی دی.
کونده مور يې هره ورځ د خپل يوازني مسافر زوی مينه زما په ليدلو ماتوي.
ستورۍ هر روژه مات د خوراکونو ډک پتنوس زموږ دوکان ته راوړي.

دا زما د مسافر انډيوال اڅک کشره خور ده.
له دې سره تنګ پنجابي کالي خورا ښه ايسي.

که څه هم دا غټه نجلۍ ده، خو کورنۍ يې د ګرانښت له امله د سر ويښتان مردانه ور جوړوي.
ستورۍ په صحت روغه ده، نو ځکه يې غوښن باړخوګان په خندا کي زړونه روي.

نن دادی د ۲۲م روژه مات اذانونه شروع سول، خو د اڅک مور لا د ستورۍ په لاس د خوراک پتنوس نه دی رالېږلی.

ټوله ورځ روژه، له اذان وروسته د خوراک انتظار او د ستورۍ ځنډېدل د صبر امتحان دی او د صبر امتحان خورا سخت وي.

ما يو غوړپ اوبه پر سر پورته کړي ، د ماښام پر لمانځه ودرېدم،خو انديښنو مي په زړه او دماغ کي غزوني کولې، هغه د رحمان بابا يو بيت دی،چي وايي:

**چي د زړه حضور يې نه وي په لمانځه کي**
**پــه کــار نـــه دی مقتدی وي کـــه امـــام**

د لمانځه د اخري رکعت د "الهم ربنا" له پيل سره سم مي د اڅک دوی د کور د دروازي کړپ واوريدی.
لا مي لاسونه دعاء ته نه وه پورته کړي، چي ستورۍ ډک پتنوس په لاس راته ودرېده.

زه، چي ور ولاړېدم او دې يو څه راته ويل په دې وخت کي نابېره شرنګ سو، د ستورۍ له لاسونو ډک پتنوس/مجمه ولوېدی او ټول خواړه د دوکان مخ ته په خاورو کي لت پت سول.

د ستورۍ د نارنجي کميس لمن او سپين لاسونه هم د کتغ په توی سويو غوړيو ولړل سول.
کله، چي يې زما حيرانی ته پام سوو لاسونه يې وځنډل او بېله څه ويلو يې کورته وځغستله

ما د دوکان مخ ته د لوېدلو غابونو او ګېلاسونو په را ټولولو ځان اخته کړ او تر سبا روژه ماته پوري په لوږه او تنده نه يم پوهېدلی.

محمدابراهيم سپېڅلی
۲۰۲٦ / مارچ/۱۱
المان ، بن ښار



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ